لیکونکی: دکتور محمد ظریف علم ( ستانکزی)






## د حقوقـو د علم موخـــــي ( اهـداف )

لیکونکي: دکتور محمد ظریف علم ( ستانکزی)

انسان د خپلي بقا لپاره ټولنيز ژوند رامنځته کړی دی او ګډ ژوند د دې سبب ګرځېدلی، ترڅو په بشري ټولنو کې د ټولنيزو اړيکو تنظيموونکي حقوقي قواعد د خپلو مشخصو مخو لپاره وضعه شي. پر همدې بنسټ حقوق د هغو مهمو او اړينو څانګو له جملې څخه ګڼل کيږي، چې د ټولنيز ژوند په ټولو اړخونو کې خپل قواعد د ځانګړو موخو لپاره د اړيکو د تنظيمولو لپاره بنسټ ګرځوي.

د حقوقو بنسټونه په ټولنو کې د بنسټيزو قواعدو له مخې د ډول ډول او يا هم د يوشان بحثونو وړ ګرځېدلي دي، له همدې مخې د هغو د ژورې مطالعې اړتيا د دې سبب ګرځي، ترڅو حقوقي قواعد د خپلو مخو سره د يو حقوقي مسلک او څانګې په توګه په بشپړ شکل درک کړو او هغه د ټولنيز ژوند په مختلفو برخو کې د قوانينو په وضعه کولو کې تمثيل کړو.

د حقوقو علم د نورو علومو په څېر د خپلو موخو (اهدافو) لرونکی دی او له همدې مخې د يو خپلواک علم په توګه په ټولنو کې راڅرګند شوی دی، چې د حقوقو د علم په موخو کې هر يوه عبارت ده له:

| | | |
|---|---|---|
| د ثبات راوستل | د امنيت خونديي کول | د عدالت پلي کول |

چې هر موخه د حقوقي قواعدو له آنده په لانديني برخو کې د بحث وړ دي:

### لومړۍ موخه: د ثبات راوستل:

د حقوقو د علم لومړنۍ موخه په ټولنه کې د ثبات راوستل دي، لکه څرنګه چې د حقوقو د علم په تعريف کې ولیکل شول، چې حقوق له ټولنې سره د وګړو او له ټولنې سره د ټولنې د اړيکو تنظيموونکی او د وګړو خپلمنځي اړيکې په خپل منځ کې تنظيموي، او يا د قانون له مخې په شخص باندې د شخص او يا په يو شي باندې د شخص د ولکې او واک ملاتړ کوي، چې دغه ټول ياد موارد په ټولنه کې د ثبات لپاره د ډېر ارزښت وړ دي.

د بیلګي په ډول د ماليې او محصول ورکولو باندې د افغانستان د اتباعو د مکلفيت په اړه د اساسي قانون (۴۲) مادې ته پاملرنه چې داسې صراحت لري:

(هر افغان مکلف دی، د قانون له حکمونو سره سم دولت ته ماليه او محصول ورکړي، هېڅ ډول ماليه او محصول د قانون له حکمه پرته نه وضع کېږي).

د قانون د پورتني حکم په تصريح کې د ثبات راوستل د دولت د تمويل او مالي ثبات له مخې تصريح شوي دي، حال دا چې دغه موضوع په قانون کې حقوقي قاعدې تنظيم کړې ده، همدارنګه د يادې مادې دويم جز هم د قانون له حکمه پرته د ماليې او محصول د وضعه کولو موضوع منعه ګرځولې ده، ترڅو په قانون کې د ثبات راوستلو لپاره د استبداد منعه تنظيم شي.

يا که يو بل مثال فرض کړو، د وخت تېرېدو په قاعده کې د ماليې او محصول حق چې دولت يې مستحق ګڼل کېږي، د پنځو کلونو له تېرېدو وروسته د دولت د دعوې له تعقيب او څارنې پرته د يادې موضوع په برخه کې د اورېدو وړ نه دی.

په دې اړه د افغانستان مدني قانون د (۹۷۴) مادې (۱) فقره داسې صراحت لري:

(د ماليو او محصول دعوی چې دولت يې مستحق وي، د پنځو کلونو د تېرېدلو وروسته نه اورېدل کېږي).

دغه قاعده د حقوقي قواعدو د ثبات په موخه تصريح شوې ده؛ برعکس دولت حق لري او کولای شي، چې د پنځو کلونو د مودې په لړ کې محکمې ته له مراجعې او د دعوی له اقامې پرته خپل د ماليې او محصول حق ترلاسه کړي، حال دا چې له پنځو کلونو وروسته د دولت دعوی د محکمو له خوا نه اورېدل کېږي، په دغه صورت کې د دولت د ماليې او محصول حق د وخت تېرېدو ( مرور زمان) د قاعدې تابع ګرځي.

د افغانستان مالياتي چارو د ادارې د قانون د (۲۵) مادې (۲) فقره په دې اړه داسې صراحت لري:

( ماليه ورکوونکی مکلف دی، د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي سندونه او دفترونه د مالياتي اظهارليک د وړاندې کولو د مودې له پای ته رسېدو څخه د اعتبار تر پنځو کلونو پورې په هېواد کې وساتي او د غوښتنې په صورت کې يې د مالياتو د ادارې په واک کې ورکړي).

د پورتنۍ مادې د تصريح له مخې دا روښانه کېږي، چې د مالياتي چارو قانون هم د عامو قواعدو پربنسټ د مرور زمان له قاعدې څخه پيروي کړې ده او له پنځو کلونو وروسته د مالياتي اسنادو لپاره اړتيا نه ليدل کېږي او مؤدي ( ماليه ورکونکی) د هغو په ساتنه مکلف نه دی، د پنځو کلونو په ترڅ کې د مالياتي اسنادو هر ډول پلټنه د سنجش پربنسټ جواز لري او له پنځو کلونو وروسته دغه حق د وخت تېرېدو ( مرور زمان ) تابع ګرځي.

او د قانوني ثبات د ټينګولو لپاره په يو بل مثال کې، هر کله چې مؤدي ( ماليه ورکونکی) په خپل سنجش کې دولت ته اضافه ماليه او محصول ادا کړی وي، مدني قانون د خپلې (۹۷۴) مادې د (۲) فقرې په لړ کې داسې صراحت لري:

( د ماليي د بېرته اخيستلو دعوی او د هغه محصول دعوی چې بل چا ته ورکول شوی وي، د پنځو کلونو وروسته نه اورېدله کيږي، ذکر شوې موده د اداکولو له نېټې څخه شروع کېږي).

د افغانستان مالياتو قانون د (۸۹) مادې د (۲) فقرې د حکم په ترڅ کې داسې صراحت لري:

(هغه ماليه ورکوونکی چې مالياتی اظهارليک د دې قانون د حکمونو مطابق وړاندې يا د ماليې د ټاکنې يادداښت تسليم شوی وي او وروسته باوري شي، چې مالياتي اظهارليک يا د ماليې د ټاکنې يادداښت به ناسم وي، په دې صورت کې کولای شي د ماليې د يادداښت تعديل يوازې د مالياتي اظهارليک د وړاندې کولو له نېټې څخه د پنځو کلونو په موده کې وغواړي).

تر پنځو کلونو پورې د ماليو په اخيستو کې د ثبات راوستلو په اړه د پورتنی مادې د تصريح له مخې مؤدي او ماليه ورکوونکی د اظهارنامې د تېروتنې په اصلاح لاس پورې کولای شي، حال دا چې له پنځو کلونو وروسته نه يوازې دا چې د مدني قانون د يادې مادې د حکم له مخې د مؤدي دعوی د اورېدو وړ نه ده؛ بلکې پر عايداتو د مالياتو د قانون له مخې د هغې د اصلاح حق هم ساقطېږي.

د مطلب لنډيز دا دی، چې په پورتنيو موضوعاتو کې حقوقي قاعده تر پنځو کلونو پورې د خپل ثبات راوستل د ترلاسه کېدو وړ او ساتي، له پنځو کلونو وروسته د حقوقي قاعدې ثبات د مرور زمان له کبله ساقطېږي.

## دويمه موخه: د امنيت خوندي کول

حقوق د خپلې دغې موخې پربنسټ د دوو موخو (د ثبات راوستو او عدالت پلي کولو) لپاره وقايوي تدابير وړاندېزولای شي، حقوقي قاعدې په حقيقت کې د امنيت خوندي کولو اصول وضعه کوي او په ټولنو کې د هغو تطبيق د قانون د حکمونو په واسطه تضمينوي. هر کله چې له هغو احکامو او حقوقي قاعدو څخه چې په قانون کې تنظيم شوي، سرغړونه وشي او دغه سرغړونه فردي او عامه هوساينه زيانمنه کړي، عامه امنيت له ګواښ سره مخامخ کړي، حقوقي قواعد د خپلو مؤيداتو په واسطه د سرغړونکي پر وړاندې د قانوني چلند غوره‌ونه کوي، چې په ټوليز شکل د حقوقو په دغې موخه کې هغه قانوني مؤيدات چې د امنيت خوندي کولو ته ثبات وربښي، په لمړی برخه کې بايد د مؤيدې مفهوم روښانه کړو وروسته بيا د مؤيدو قسمونه د ذکر وړل دي:

**د مؤيدې مفهوم:** مؤيده د تائيدونکي او مُثبِت يا ثابتوونکي په معنا کارول کېږي.[1]

د حقوقو د علم په اصطلاح له هغو حقوقي قواعدو څخه عبارت ده، چې د حقوقي امريه او تکميله قواعدو د تائيد او تطبيق لپاره د اجراء ضمانت وضعه کوي.

مؤيدات د حقوقو په علم کې د خپل وروستاړي يا په بل عبارت اضافت له مخې په مختلفو حقوقي څانګو کې د هغو د احکامو پربنسټ له يو بله جلا کېږي او په درې لاندينيو ډولونو وېشل کېږي:

---

۱ - لغت نامه المعاني.

**۱ ـ جزائي مؤيدات :** له هغې جزا څخه عبارت ده، چې د جزايي حقوقي قواعدو د ناقض لپاره په جزايي قوانينو کې تسجيل شوې او د هغې مرتکب يا ترسره کوونکی په مجازاتو ملامتوي.

**۲ ـ مدني مؤيدات :** له هغه جبران څخه عبارت دی، چې د مدني او خصوصي حقوقي قواعدو د ناقض لپاره د خصوصي حقوقو په قوانينو کې تسجيل شوی او مرتکب د موضوع په فسخې يا د تاوان په جبران ملامتوي.

**۳ ـ اداري مؤيدات :** له هغې رټنې څخه عبارت ده، چې په اداري قوانينو کې د تسجيل شوو اداري قواعدو ناقض په تأديب ملامتوي.

په آخر کې د دغې مخې په تړاول بايد ذکر کړو چې د حقوقو په علم کې د امنيت د خوندي کولو موخه دا ده، چې د خلکو ذهنونه دې ته متوجې کړي، ترڅو د قانون په خلاف کړنو لاس پورې نه کړي او که نه د پورتنيو مؤيداتو په واسطه د جزاي، مدني او يا اداري موضوعاتو په برخه کې رټل کيږي. له همدې مخې په ټولنه کې د قانون د تطبيق په خاطر دغه موخه د قانون د نقض پر ضد د مبارزوي نقش پرځای تر ډېره وقايوي نقش لري. که چيرې قانوني قواعد نقض شي، بيا راتلونکې موخه چې د عدالت له پلي کولو څخه عبارت ده، خپل نقش په ټولنه کې د حقوقي او قانوني قواعدو د تطبيق له اړخه ترسره کوي.

### دريېمه موخه: د عدالت پلي کول

د حقوقو يوه موخه د عدالت پلي کول دي، عدالت د هغه د مفهوم پربنسټ چې په خپل مقام کې د يو شي اينبودل پر خپل ځاې دي، کارول کيږي. هر کله چې په ټولنه کې قانون نقض شي، بيا اړينه ده، چې عدالت پلي شي، ترڅو زيان لرې او جبيره شي او زيانمن شخص ته عوض ورکړل شي.

مقنن يا قانون جوړونکی د حقوقي قاعدو په واسطه د عدالت پلي کول په قوانينو کې تنظيموي؛ ځکه د قانون بنسټ او روح د عدالت پر اساس ولاړ دی او هغه قانوني قاعده چې د شخص د خلاف کړنې له مخې نقض او په پام کې نه ده نيول شوې، بېرته استقرار پيدا کړي. ټولنو د عدالت د پلي کولو لپاره ارګانونه، سازمانونه او اداري جوړې کړې دي، ترڅو د قانون د نقض په صورت کې همدغه ارګانونه د هغو حقوقي لارښوونو په وسيله چې په قوانينو کې تسجيل شوي، عدالت پلي کړي او ظلم او تېری له منځه يوسي.

عدالت هغه کليمه ده، چې د ظلم پر وړاندې کارول کيږي. له همدې مخې هر هغه ظلم چې په ټولنه کې ترسره کيږي، د حقوقو د علم دغه موخه ورسره مبارزه کوي او بېرته عدالت پلي کوي.

په قانون کې داسې مثالونه شته، چې د مساواتو او يا عدالت د اصل پربنسټ يې اساس اينبودل شوی دی، لکه څرنګه چې د افغانستان اساسي قانون د (۴) مادې (۴ او ۵) فقرې د مساواتو اصل د تابعيت په حق کې تصريح کړی دی:

(د افغان کلمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کيږي، د ملت هيڅ يو فرد د افغانستان له تابعيت څخه نه محرومېږي).

د یادې مادې د حکم د تصریح له کټو څخه د افغانستان د ملت ټول وګړي له امتیاز او کمۍ پرته ګټه اخیستلای شي، یعنې د ملت ټول وګړي د افغان کلیمې له کارولو څخه نه بې برخې کېږي او همدارنګه له دغه حق څخه محرومیت جواز نه لري او ممنوع دی، یاد حق د مساواتو د اصل پربنسټ تصریح شوی دی.

د عدالت اصل په قوانینو کې د اساسي قانون د (۲۲) مادې د حکم له مخې په مثال کې راوړلای شو، چې داسې صراحت لري:

( د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی، د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري).

د یادې مادې تصریح د عدالت پلیتابه اصل بیانوي، د تساوي کلیمې یادول د پورتنۍ مادې په متن کې مطلق نه دي؛ بلکې د عدالت پربنسټ نسبي دي. په دې ډول چې (د قانون پر وړاندې) یادول د دغه بیان رانغاړونکی دی، چې د ښځې او نر ترمنځ حق او وجیبه د قانون په واسطه ټاکل کېږي. یاده موضوع د عدالت پلیتابه د اصل په معنا ده او که داسې نه وي، د عدالت مخالف برداشت ظلم او تېری د ښځو پر حقونو ترسره کېږي، لکه که فرض کړو، چې مېرمنې د کار د حقوقو د قواعدو پربنسټ چې د کار په قانون کې تصریح شوي دي، له ولادت څخه وروسته د هغې ځانګړتیا په نسبت چې لري یې، د ولادي رخصتۍ مستحقه ګرځي، حال دا چې نران د ښځو د ځانګړتیا خلاف له دغه حق څخه ګټه نه شي اخیستلای او یا هم د کورنۍ په حقوقو کې په مېړه باندې د مېرمنې حق د واده د عقد له مخې د مهر او نفقې ثبوت دی، حال دا چې یاد موارد د مېړه وجیبه ده، نو د یادولو وړ ده، چې په دې حالت کې مطلقه تساوي مقنن په پام کې نه ده نیولې، پر همدې بنسټ د اساسي قانون د (۲۲) مادې په متن کې (د قانون پر وړاندې) قید شوی، چې د مقنن دغه قید د عدالت پلیتابه د اصل رانغاړونکی دی؛ نه د مساواتو، ځکه په یادو صورتونو کې مطلقه تساوي په پام کې ونیسو، د مېرمنې حقوق تلف او د مېړه وجیبه نفیه کېږي، چې دغه حالت سم نه دی او عدالت د دې غوښتنه نه کوي. لکه څرنګه چې په ولادي رخصتۍ کې د کار په حقوقو کې عدالت دا غواړي، ترڅو مېرمنې کارکوونکې د ولادي رخصتۍ له حق څخه باید ګټه واخلي او دغه امتیاز یوازې د مېرمنو لپاره قانون ځانګړی کړی دی.

د عدالت پلې کول د حقوقو د موخو له جملې څخه دي، چې د حقوقو په ټولو څانګو په عام ډول عمومي او خصوصي څانګو کې یاده موخه تعقیب او د پام وړ ګرځي.

لیکونکی: دکتور محمد ظریف علم ( ستانکزی)

یوه برخه د کتاب: (مبادی علم حقوق – کلیات قانونی در سیستم حقوقی افغانستان )

مؤلف : دکتور محمد ظریف علم ( ستانکزی )